# جنت ستاسو څخه یو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډېر نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "جنت ستاسو څخه یو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډېر نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی".
[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې جنت او دوزخ انسان ته دومره نږدې دي لکه د پښې پر څټ د بوټانو تسمې چې نږدې دي، ځکه چې کله هغه داسې یو عمل وکړي چې الله جل جلاله پرې خوښیږي، نو له امله یې جنت ته ځي او یا ګناه وکړي چې له امله یې دوزخ ته ځي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3581

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee